


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



فريد احمد « تسکين »
د نشر نيټه : ۱۵ دسمبر ۲۰۱۲م

# غـــزل

په رنجو دې ښيا لړلي اشنا سترګې
يو زه نه يم درپسې دي بلا سترګې
ستا دسترګو خمارونو مم به وخوري
له لکه وړې ليوګی ګرځي زما سترګې
زه يو تور غوندې ژوندون وم تا رڼا کړم
درنه ځار شم،درنه ځار دسبا سترګې
له نظر نشې،چې بد نظر کړي تاته
شه ړندې دهغې تورې بلا سترګې
په کابل کې دې ژوندی اوسې جانانه
درنه دې مې په پکتيا کې ښا سترګې
تولـه شپه مې ستا په ياد کې شوګير کړی
خوب اخيستی يم درنی دي پرما سترګې
ګني خون به دې رقيبه په ځان واخلي
د تسکين مخې ته کيږي د چا سترګې
۲۵/۸/۱۳۹۱
بابر ښ کابل ـ افغانستان
د معاصرو ادبياتو اووم ملي جشن